# ستا د دِین سر فرازي

**(30-October-2025**

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے
د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پۀ 30 اکتوبر، کال 2025ء (متوقِع اِسلامي تاریخ: 7 جمادي الاول، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# ستا د دِین سرفرازي

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- --- د یوې قافلې د غم نه ډکه قیصه
- ---غیبي انګوریـې نصیب شو
- --- بهترین ژوند
- --- د الله پاک پۀ لار کښې د سفر ناشنا اثر

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** فرض حج اوکړئ! بے شکه د دې ثواب په 20 غَزه ګانو کښې د شرکت کولو نه زيات دے او په ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک لوستل د دې برابر دے۔ (1)

بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحْسن پر
سدا سلام کہو، عمر بھر دُرُود پڑھو
عَبث گُناہوں کی شَامت میں مارے پھرتے ہو
خُدا کی تم پہ ہو رحمت، اگر دُرُود پڑھو (2)

**وضاحت:** د دوزخ د وور نه بچ کولو او جنَّت ته داخلولو والا، احسان فرمائيلو والا خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې ټول عمر د دُرُود او سلام نذرانې پيش کوئ، که د اعمالو د شامته د مشکلاتو ښکار او پريشانه يئ نو دُرُود لولئ! د الله پاک د رحمت حق دار به جوړ شئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...فردوس الاخبار، جلد:1، صفحه:339، حديث:2484۔

2...نورِ ايمان، صفحه:57۔

# د بیان اوریدلو نیتونه

پۀ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نیتونو دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** پۀ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي۔ راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پۀ اَدب به کښینم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، ځپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!** **صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د عاشقانِ رسول دِیني تنظیم دعوتِ اِسلامي پۀ ټوله دُنیا کښې د دِین پۀ خدمت کولو، د قرآن او د سُنَّتو تعلیمانو او د اِسلامي اخلاقو او کردار او کلتور عام کولو کښې مصروف دے۔ اَلْحَمْدُلِلّٰه! پۀ ټوله دُنیا کښې د کامیابۍ سره د دِین د خِدمت کار جاري دے۔ د دعوتِ اِسلامي د **مرکزي مجلِسِ شوریٰ** له خوا د **نومبر میاشت د قافلې د میاشت** پۀ توګه د نمانځلو اِعلان شوے دے۔

یو څو عاشقانِ رسول پۀ شریکه د **دارُ السُّنَّه** نه شروع شي او باقاعده د ټاکلے شوې طریقې مطابق کلي کلي، ښار ښار، جومات جومات ته ځي، عِلمِ دِین زده کوي او نورو ته یې ښائي، د نیکۍ دعوت عام کوي، **جومات ډک کړئ تحریک** چلوي او د دِین د خِدمت سعادت حاصلوي۔ **دې ته قافله وئیلے شي**۔ قافله د دِین د خِدمت او د دِین د تبلیغ بهترینه ذریعه ده۔ پۀ ټوله دُنیا کښې د دِیني تعلیمانو عام کولو او زړونو ته د دِین د محبت کوزولو ډیره کامیابه ذریعه هُم قافله ده۔

دعوتِ اِسلامي اګر که پۀ یوه منظمه طریقه د قافلو سلسله شروع کړې ده، البته د قافلو لړۍ د شروع نه راروانه ده۔ ❀خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1۔

هم قافلې رواني کړې وې، ﷺصحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم به هم پۀ قافلو کښې سفر فرمائيلو او ﷺد هغې نه پس علمائے کرامو، اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم هم دا سلسله جاري وساتله- راځئ چې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم د يوې قافلې د درد نه ډکه قيصه واورو:

## د يوې قافلې د غم نه ډکه قيصه

بَنُولِحيَان د عربو يوه غير مسلمه قبيله وه- يو ځل د دې قبيلې ځينې خلق بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شول، صرف د منافقت پۀ وجه يـې ووئيل چې مونږ دِين اِسلام زده کول غواړو، تاسو ته خواست دے چې څه صحابۀ کرام (رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم) زمونږ سره اوليږئ! چې مونږ ته دِين وښائي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي خواست قبول کړو او د 6، 7 يا 10 صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم يوه قافله يـې د هغوئي سره اوليږله- حضرت عاصِم يا حضرت مَرثَد رَضِیَ اللهُ عَنۡهما يـې د هُغه قافلې مشر جوړ کړو-

دغه صحابۀ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم د مدينے منورې عجوه کجورې د ځان سره واخستې - **پۀ رواياتو کښې دي چې** پۀ لاره به دې حضراتو کجورې خوړلې او ګزاره به يـې پرې کوله- کله چې دا مبارکه قافله د دِين د تعليماتو د عام کولو د مقصد لاندې رَجِيع نومې ځائے ته اورسيدله نو د بَنُولِحيَان قبيلې والؤ ورسره غداري اوکړه-

هغوئي د مخکښې نه پټه منصوبه جوړه کړې وه، پۀ دغه ځائے کښې 100، 200 ته نزدې کسان د مخکښې نه راجمع شوي وو، نو هغوئي صحابۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم پۀ ولقه کښې واخستل او پۀ هغوئي باندې يـې غشي ورول شروع کړل! پۀ دې حمله کښې 7 صحابۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم شهيدان شو- حضرت عاصِم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ کوم چې د دې قافلې مشر وو، هغوئي هم شهيد شو- 3 صحابۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم ﷺ حضرت خُبَيب ﷺ حضرت زيد ﷺ او حضرت عبد الله بن طارِق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم قيديان شول-(1)

1 ...شرح زرقانی مع مواہب اللدنیه، کتاب المغازی، بعث الرجیع، جلد:2، صفحه:479477 ملخصاً۔

## د حضرت عاصِم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غيبي حفاظت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې موقع باندې يوه ډېره اِيمان تازه کوونکې واقعه وشوه، تاسو ګورئ چې څوک د دِين د خِدمت د پاره خپل ژوند وقف کوي، اللّٰه پاک هغوئي ته څنګه عظمت عطا کوي۔ روايت دے: حضرت عاصِم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دُعا کړې وه: **يا اللّٰه پاکه! داسې توفيق راعطا کړې چې نۀ زۀ د کوم مشرک سره لاس ولګووم، نۀ ما سره څوک مشرک لاس ولګوي۔**

نو کله چې هغوئي شهيد شو نو د غير مسلمو دا غوښتله چې د هغوئي سر مبارک د وجود نه بيل کړے شي خو قربان شم! اللّٰه پاک د هغوئي غيبي حفاظت داسې اوکړو چې ناڅاپه د شاتو ډېرې مچې راغلې۔ هٔغه مچو هغوئي پۀ خپله ولقه کښې واخستل۔ دغه شان مشرکانو د هغوئي سره لاس اونه لګولے شو۔ (1)

| | |
|---|---|
| ربّ کے دَر پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافِلے میں چلو! |
| غیبی اِمداد ہو، گھر بھی آباد ہو | لُطفِ حق دیکھ لیں، قافِلے میں چلو!(2) |

## د حضرت خُبَيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تهجد ګزاري

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! باقي چې نور کوم درې صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم وو، کوم چې دې کافرانو ګير کړي وو۔ هٔغه درې واړه هغوئي د مکے مکرمې والؤ ته حواله کړل۔ د مکے مکرمې والؤ هغوئي يو څو ورځې پۀ قيد کښې وساتل، بيا يې پۀ درد ناکه طريقه شهيدان کړل۔

پۀ دوئي کښې د حضرت خُبَيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ واقعه ډېره ايمان تازه کوونکې ده۔ هغوئي د مکے مکرمې پۀ يو کور کښې قيد وو۔ پۀ روايتونو کښې دي چې حضرت خُبَيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ

1...شرح زرقانی مع مواہب اللدنیہ، کتاب المغازی، بعث الرجیع، جلد:2، صفحہ:495494 ملخصاً۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:671و672 ملتقطاً۔

به د دغه قيد پهٔ حالت کښې هم روزانه د تهجدو پهٔ وخت پهٔ تيز اواز تلاوت کولو- د هغوئي د زړهٔ پورې تِلاوت پهٔ اوريدو به د مکے مکرمې زنانه راجمع کيدلې او قرآنِ پاک به يـې اوريدو او ژړل به يـې- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! څومره ښکلے شان دے---!! د هُغه عظيم الشانې قافلې مسافر د کومو هر کلے چې پهٔ غشو او تورو اوکړے شو، د کومو ملګرې چې شهيدان کړے شول او هغوئي قيد کړے شول، ګويا هغوئي به د قيد حالت کښې هم خپل جدول (يعنې د ژوند معمول مبارک) پهٔ پوره طريقه چلولو، روزانه به يـې تهجد کول او ډير ډير تلاوت به يـې کولو-

## د تهجدو فضائل

کاش چې زمونږ هم سعادت نصيب شي، مونږ خو پهٔ قيد کښې هم نهٔ يو، ازاد يو، کاش چې تهجد کوونکي جوړ شو- الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

وَ مِنَ الَّیْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ (پاره:15، سورهٔ بنی اسرائیل:79)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د شپې پهٔ څهٔ حصه کښې تهجد کوه دا خاص ستا د پاره زيات دي-

❁ پهٔ حديثِ پاک کښې دي: د فرض نـمونځ نه پس د ټولو نه افضل نـمونځ پهٔ شپه کښې ادا کوونکے نـمونځ دے-(2)

❁ پهٔ يو روايت کښې دي: کوم بنده چې د شپې راپاځي او اودس اوکړي، الله پاک فرښتو ته فرمائي: زما دې بنده ته وګورئ کوم چې خپل نفس زما نه پهٔ سوال کولو مائله کوي دا بنده چې زما نه څهٔ غواړي هغه به دهٔ ته عطا کولے شي-(3)

---

1...شرح زرقانی مع مواہب اللدنیہ، کتاب المغازی، بعث الرجیع، جلد:2، صفحہ:495494 ملخصاً۔

2...مسلم، کتاب الصیام، باب فضل صوم المحرم، صفحہ:424، حدیث:1163۔

3...ابن حبان، کتاب الطھارۃ، باب ذکر البیان بان...الخ، صفحہ:386385، حدیث:1052 ملتقطاً۔

❁خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قيامت په ورځ به ټول خلق په يو ځائے کښې راجمع وي، بيا به اعلان کوونکے اعلان کوي چې چرته دي هٰغه خلق د کومو دړې چې به د بسترو نه جُدا اوسيدلې؟ بيا به هٰغه خلق ودريږي او هغوئي به په شميره کښې ډير کم وي او بغير د حِساب نه به جنَّت ته داخِل شي، بيا به د ټولو خلقو حِساب شروع شي۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې د شپې د نـمونځ (مثلاً د تهجدو د کولو) څومره عظيم فضائل دي۔ اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ تهجد جَنَّت ته بوتلونکے ❁ د برکت والا ❁ دربِّ کريم د رضا والا نـمونځ دے۔

د تهجد ګزار جوړيدو يوه اسانه طريقه دا هم ده چې مونږ د قافلو مسافر جوړ شو۔ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قافلې په جدول کښې ❁ د تهجد نـمونځ ❁ د اشراق او څاښت ❁ اَوّابين ❁ او د توبې نـمونځونه هم شامل دي۔ څکه د قافلو مسافر جوړ شئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د تهجد ګزار جوړيدو توفيق به مو هم نصيب شي۔

## غيبي انګور يـې نصيب شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت خُبَيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په مکه مکرمه کښې د غير مسلمو په لاس قيدي وو۔ د هغوئي په قيد کوونکو کښې چا د هغوئي نه پوښتنه اوکړه: اے خُبيبه! د څۀ څيز ضرورت شته؟

اوس د صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ښکلې ښکلې جذبات واورئ! اوئي فرمائيل: آؤ! په ما باندې د هٰغه ځناورو غوښه مۀ خوره کومه چې د غيرُ الله په نوم ذبح کړے شوې وي او کله چې د مکے والا ما شهيد کوي نو د هغې نه مخکښې ما خبر کړه۔(2)

---

1...شعب الايمان، باب فى الصلوات، تحسين الصلاة...الخ، جلد:3، صفحه:169، حديث:3244۔

2...شرح زرقانى مع مواهب اللدنيه، کتاب المغازى، بعث الرجيع، جلد:2، صفحه:483 ملتقطاً۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ځومره ښکلي جذبات دي- د قيد په حالت کښې هم د هغوئي سره د حلالو خوړلو فِکر دے چې دا د مکے مکرمې والا غير مسلمه دي، چرته دوئي په ما باندې حرامه غوښه اونه خوري، ځکه هغوئي خواست اوکړو چې په ما باندې حرامه غوښه مه خورئ-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! هغه کافران وو- هلته حلاله غوښه چرته وه، ظاهره وه چې غير مسلمو ښځکه په اِسلامي طريقه ځناور ذبح کولے شو- الله پاک حضرت خُبَيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حلال رزق ښځکه ورسولو، واورئ! روايت دے: حارث د چا سره چې هغوئي قيد وو، د هغه لور وائي چې ما د خُبَيب نه بهتر قيدي چرته نۀ دے ليدلے، يوه ورځ ما په دروازه کښې وکتل چې د هغوئي په لاس کښې د انساني سر همره د انګورو غټ ګنګوچے وو- هغوئي انګور خوړل، حالانکې په هغه ورځو کښې به په مکه کښې انګور نۀ وو-(1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دِين د خِدمت د پاره په ځان وقف کوونکو، په دې عظيمه قافله کښې په سفر کوونکو باندې د الله پاک کرم ته وګورئ چې رَبِّ کريم هغوئي ته د غيبو نه رزق عطا کولو-

## په قافلې والا باندې کرم اوشو

دا خو د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ډيره عظيمه قافله وه- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم په برکت چې نن هم کوم عاشقانِ رسول د مدني قافلو مسافر جوړيږي، د الله پاک په فضل په هغوئي باندې هم کرم کيږي- مدينة الاَوْلِيا، ملتان (پنجاب، پاکستان) يو اِسلامي ورور وو- هغه بے روزګاره وو- د نوکرۍ وغيره د پاره يې په ډيرو ځايونو کښې درخواستونه ورکړي وو خو د ناکامۍ نه علاوه يې په لاس هيڅ نۀ وو راغلي- يو ځل د هغه ملاقات د يو اِسلامي ورور سره وشو، اِسلامي ورور هغه ته په قافله کښې د سفر کولو

---

1 ...سبل الهدیٰ، جماع ابواب سرایاه...الخ، الباب الخامس عشر...الخ، جلد:6، صفحه:43 ملتقطاً-

ترغیب ورکړو- د هغه ذِهن جوړ شو او پهٔ ربنتوني زړهٔ سره يې نوم وليکلو- وائي چې لا مې پهٔ قافله کښې د سفر نيت کړے وو چې د يوې کارخانې د طرف نه راته آفر راغلو، نو ما انټرويو ورکړه، بيا د قافلې مسافر جوړ شوم- لا مې قافلې ته پهٔ راتلو دوه ورځې شوې وې چې د کمپنۍ د طرف نه خبر راغلو چې تاسو پهٔ انټرويو کښې کامياب شوي يئ- داسې اَلْحَمْدُلِلّٰه! پهٔ قافله کښې د سفر پهٔ برکت ما ته روزګار ميلاؤ شو-[1]

| | |
|---|---|
| نوکری چاہئے، آیئے! آیئے! | قافلے میں چلیں، قافلے میں چلو! |
| تنگدستی مٹے، دور آفت ہٹے! | لینے کو بَرَکتیں، قافِلے میں چلو! |
| ہے نبی کی نظر قافلے والوں پر | آؤ! سارے چلیں قافلے میں چلو![2] |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د حضرت خُبَيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ شهادت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! حضرت خُبَيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کوم چې پهٔ قيد کښې وو، اخر د مکے مکرمې والؤ د هغوئي د شهيد کولو فيصله اوکړه- نو هغوئي يې د هلته نه مقامِ تَنعيم ته بوتللو- د مکے مکرمې خلق د هغوئي د اخلاقو نه ډير زيات متاثر وو، نو د مکے مکرمې ډير خلق، واړهٔ، زنانه ټول پهٔ هغوئي پسې شاته شاته مقامِ تَنعيم ته اورسيدل- ډير خلق راجمع شوي وو- حضرت خُبَيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائيل: ما بس 2 رکعته نـمونځ کولو ته پريږدئ---!!

حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: حضرت خُبَيب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وړومبے کَس دے چا چې د شهادت پهٔ وخت د 2 رکعتو کولو سُنَّت قائِم کړل-[3]

---

1...عجیب الخلقت بچی، صفحہ:1413 بتغیر قلیل۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:675671 ملتقطاً۔

3...بخاری، کتاب المغازی، باب غزوۃ الرجیع، صفحہ:1026، حدیث:4086۔

د نـمونځ کولو نه پس حضرت خُبَیب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پهٔ زنځیرونو وتړلے شو- ھغه وخت د مکے مکرمې والؤ ووئیل: د اِسلام نه واوړه! تا به ازاد کړو- ھغوئي د ایمان پهٔ جذبه کښې وفرمائیل: **پهٔ زمکه باندې چې څهٔ دي، که هر څهٔ ما ته راکړے شي، زهٔ به بیا هم اِسلام پرې نهٔ ږدم-**

غیر مسلمو ووئیل: آیا تهٔ دا خوښوې چې دا وخت ستا پهٔ ځائے ستا نبي مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) وے او تهٔ پهٔ ارام سره د خپلو بچو سره پهٔ کور کښې وے؟ اوئې فرمائیل: پهٔ خُدائے مې دې قَسم وي! زهٔ خو دا هم نهٔ خوښووم چې زما د محبوب پهٔ وجود کښې یو ازغے لاړ شي او زهٔ پهٔ ارام سره ناست یم- غیر مسلمو بیا ووئیل: اے خُبَیبه! د اِسلام نه واوړه! ګنې تا به قتل کړو- اوئې فرمائیل: د ځان نذرانه خو ډیره کمه ده (د اِسلام د پاره خو د دې نه هم غټې قرباني پیش کول پکار دي)-

کروں تیرے نام پہ جاں فِدا، نہ بس ایک جاں، دوجہاں فدا
دو جہاں سے بھی نہیں جی بھرا، کروں کیا کروڑوں جہاں نہیں( 1 )

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** بیا حضرت خُبَیب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ راجمع شوو خلقو ته وکتل، هلته ټول غیر مسلمه وو، هغوئي د الله پاک پهٔ حُضُور کښې عرض اوکړو: یا الله پاکه! دلته خو ما ته ټول دښمنان پهٔ نظر راځي، پهٔ دوئي کښې به څوک هم خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته زما سلام اونهٔ رسوي- اے کریم مالکه! هُم تهٔ زما سلام مُحَمَّد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ورسوې-

حضرت اُسامه بن زید رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: عین هم پهٔ هغه وخت خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مدینه منوره کښې د صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم پهٔ مینځ کښې تشریف فرما وو، حضرت جبریلِ امین عَلَیۡہِ السَّلَام حاضر شو او د حضرت خُبَیب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ سلام یـې راورسولو- بیا د مکے مکرمې خلقو حضرت خُبَیب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ ډیر پهٔ دردناکه طریقه شهید کړو-

1...حدائقِ بخشش، صفحه:109۔

هغوئي د زخمونو په وجه زمکې له تشريف يوړلو، مخ مبارک يــې د قبلې طرف ته شو او رُوح يــې د تن نه جُدا شو- د مکے مکرمې والؤ بيا بيا د هغوئي مخ د قبلې نه اړولو خو د هغوئي مخ هم د قبلې طرف ته پاتې شو-(1)

امِیں ہیں یہ قرآن و دِینِ خُدا کے | مَدارِ ہدیٰ اعتبار صحابہ
نمایاں ہیں اِسلام کے گلستاں میں | ہر اِک گُل پہ رنگِ بہار صحابہ
یہ مُہریں ہیں فرمانِ ختمُ الرُّسُل کی | ہے دِینِ خُدا شاہکارِ صحابہ

## زما د ژوند مقصد ستا د دِين سر لوړي ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د يوې عظيمې قافلې د درد نه ډکه قيصه مونږه واوريدله، د دې نه يوه خبره دا معلومه شوه چې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم به هم د دِين د خدمت د پاره په قافلو کښې سفر فرمائيلو- دا هم معلومه شوه چې صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم بعضې وخت په دې قافلو کښې د ډيرو سختو سره هم مخ شول- نن چې مونږه د قافلو مسافر جوړيږو نو خلق راله ډير عزت راکوي، بعضې وخت خو د قافلې والؤ د پاره د خوراک انتظامونه هم کوي، خلق په قافلې والؤ باندې ځان ته دُعاګانې کوي-

خو قربان شم چې صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم به د دِين د لارې مسافر جوړيدل نو د هغوئي هر کلے به په غشو او تورو کيدو، دا خوش قِسمته به د دِين د لارې مسافر جوړيدل او خپل ځانونه به يــې قربانول، د دې باوجود به يــې هم دا وئيل چې دا خو يو ځان دے، د دِين د پاره دومره نذرانه ډيره کمه ده- لکه چې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم دا جذبات وو چې

میری زندگی کا مقصد تیرے دِیں کی سرفرازی | میں اسی لیے مسلماں، میں اسی لیے نمازی

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اوس دې مونږ لږ غور اوکړو چې صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم

1...سبل الھدیٰ، جماع ابواب سرایاہ...الخ، الباب الخامس عشر...الخ، جلد:6، صفحہ:4543 ملتقطاً-

خو د دِين د پاره خپل ځانونه هم قربان کړل---!! مونږ څهٔ اوکړهٔ؟ مونږ تر ننه پورې دِين له څهٔ ورکړل؟ ❀ سرونه زمونږ نه نهٔ غوښتلے کيږي ❀ لوئي لوئي قرباني زمونږ نه نهٔ غوښتلے کيږي ❀ صرف يو وخت دے، هغه هم مونږ د دِين د پاره نهٔ ورکوو- کاش چې پهٔ صحيح معنو کښې مونږ د دِين خدمت ګار جوړ شو-

## د غيبي مدد موندلو نُسخه

الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

إِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ (پاره:26، سورهٔ مُحَمَّد:7)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: که تاسو د الله د دين مدد کوئ نو الله به ستاسو مدد کوي-

پهٔ بل ځائے کښې الله پاک فرمائي:

وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ؕ (پاره:17، سورهٔ حج:40)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او بيشکه الله به ضرور د هغهٔ مدد فرمائي، څوک چې د هغهٔ د دين مدد کوي-

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! څومره د اُميد نه ډَک آيتونه دي- الله پاک دا نهٔ دي فرمائيلي چې ستاسو مدد به پهٔ کومه معامله کښې کولے شي- مطلقاً يې وفرمائيل چې تاسو د دِين خادمان جوړ شئ! الله پاک به ستاسو مدد اوکړي- بس چې څهٔ مشکل وي، هر قِسمه پريشاني وي، ❀ بے روزګاري ده ❀ پريشاني ده ❀ تنګدستي ده ❀ بيماري ده ❀ مور جانه بيماره ده يا بابا جان پهٔ اسپتال کښې دے ❀ د قبر او د اخرت د معاملو ويره ده ❀ يا د جنَّت طلب دے- غرض چې څهٔ هم جائز خواهش وي، څهٔ مشکل وي، د دِين خادِم جوړ شئ! الله پاک به مو غيبي مدد اوکړي-

## 19 کاله زوړ مرض ښهٔ شو

د کراچۍ (سندهـ، پاکستان) د يو اِسلامي ورور بيان دے، وائي چې زما تقريباً د 19 کالو

نه د ساه مرض وو- زهٔ ډېر پرېشانه ووم- ډېر ځل خو به راته سخت تکليف وو- هر وخت به راسره هم دا فِکر وو چې زما به ارام ښتکه نصيب کيږي- اخر يو ځل د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول سره د قافلې مسافر جوړ شوم- د مدني قافلې پهٔ برکت زما ښهٔ ډېر عِلمِ دِين زده کول نصيب شو، د دې سره سره دا برکت هم نصيب شو چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! 19 کاله زوړ مرض مې ټيک شو- (1)

| | |
|---|---|
| گرچہ بیماریاں، ہوں کہیں پتھریاں | پاؤ گے صحّتیں، قافِلے میں چلو! |
| دُور ہوں گے اَلَم ہوگا ربّ کا کرم | غم کے مارے سُنیں، قافلے میں چلو! |
| ماں جو بیمار ہو، یا وہ ناچار ہو | رنج و غم مَت کریں، قافِلے میں چلو!(2) |

## بهترين ژوند

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د دِين د خدمت برکتونه دي- د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکلي دي: ژوند د هر چا تيرېږي خو بهترين ژوند هغه دے کوم چې د الله پاک د پاره وقف کړے شي-(3)

کاش چې مونږ خپل ځان د دِين مستقل خادمان جوړ کړو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د دې پهٔ برکت به مو دُنيا هم ښه شي او پهٔ اخرت کښې به مو هم بيړې پار شي-

## اَصحابِ صفه او د دِين خدمت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ چې د خپلو بزرګانو ژوند ته وګورو نو معلومېږي چې هغوئي خپل ژوند د دِين د خِدمت د پاره وقف کړے وو- د ټولو نه وړومبے خو اَصحابِ صُفه ته وګورئ! هُغه اَوَّلين صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم کوم چې پهٔ مسجدِ نبوي شريف کښې

1...مفلوج کی شفایابی کا راز، صفحہ:1211ملخصاً۔

2...مفلوج کی شفایابی کا راز، صفحہ:1211ملخصاً۔

3...وسائلِ بخشش، صفحہ:673۔

پهٔ صُفَّه نومې ځائے کښې اوسيدل- هٔغه خوش قِسمتو صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم خپل ځانونه د دِين د خدمت د پاره وقف کړي وو- ❁ هغوئي ځانله خپل کورونه نهٔ وو جوړ کړي ❁ جامې به يــې صرف دومره وې چې ستر به يــې پرې پهٔ مشکله پټيدے شو ❁ ډيرې ورځې به يــې پهٔ لوږه کښې تيريدلې ❁ بعضې وخت خو به يــې داسې حالت شو چې د لوږې له وجهې به ورته ګرځيدل هم مشکل شو، بعضې صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم به بے هوشه کيدل او راپريوتل به - د دومره سختو باوجود به دا حضرات عالي وقار، د دِين پهٔ زده کولو او ښودلو کښې مصروفه اوسيدل- د هغوئي پهٔ شان کښې قرآني آيتونه نازل شو، الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَا تَطۡرُدِ الَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَدٰوةِ وَ الۡعَشِيِّ يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ ؕ (پاره:7، سورهٔ انعام:52) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هٔغه خلق مهٔ جُدا کوه کوم چې سحر او ماښام د خپل رب د رضا غوښتلو د پاره هغه يادوي- |

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! هٔغه خوش قِسمته، د نيک زړهٔ والا مسلمانان کوم چې سحر او ماښام الله پاک يادوي، عبادت يــې کوي، صرف او صرف د الله پاک د رضا طلب ګاران اوسيږي، هغوئي د ځان نه مهٔ جُدا کوئ-(1)

پهٔ يو ځائے کښې فرمائي: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دې اَصحابِ صُفه ته وفرمايئ!

| | |
|---|---|
| سَلٰمٌ عَلَيۡكُمۡ كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلٰى نَفۡسِهِ الرَّحۡمَةَ ۙ (پاره:7، سورهٔ انعام:54) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: "پهٔ تاسو دې سلام وي" ستاسو رب پهٔ خپله ذِمَّهٔ کرم باندې رحمت لازم کړے دے- |

سُبۡحٰنَ الله! خومره د شان والا دي، الله پاک د هغوئي د سلامتۍ د دعاګانو کولو حکم

1...ابن ماجه، کتاب الزہد، باب مجالسة الفقراء، صفحه:671، حديث:4127ملخصاً-

فرمائي او زيرے ورکوي چې الله پاک ستاسو د پاره رحمت پۀ خپل ذِمۀ کرم باندې لازم فرمائيلے دے- سُبْحٰنَ الله!

## د حضرت حَبِيب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دِيني خِدمت

دغه شان پۀ مخکښينو اُمتونو کښې وګورئ! حضرت حبيب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د چا ذِکر چې پۀ **سُورۀ يسين شريف** کښې راغلے دے- سُبْحٰنَ الله! خومره پۀ ښکلي شان يې د دِين خِدمت اوکړو، واورئ! الله پاک د يو کلي طرف ته 3 رسولان وليږل- هُغه کلي والؤ د رسولانو نه اِنکار اوکړو، هغوئي له يې تکليف ورکړو حضرت حَبِيب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم چې د کلي پۀ غاړه کښې اوسيدو، هغوئي چې خبر شو نو د دِين د خِدمت د جذبې لاندې پۀ منډه راغلو، قوم له يې د نيکۍ دعوت ورکړو او اوئې فرمائيل: اے قومه! د انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام اطاعت اوکړئ! دا د الله پاک نبيان دي، پۀ هدايت باندې دي، ستاسو نه هيڅ نۀ غواړي- بيا هم تاسو د دوئي نافرماني کوئ-

اَللهُ اَكْبَر! هُغه قوم کوم چې د نبيانو خبرې اوريدو ته تيار نۀ وو، د هغه خبره به يې څنګه اوريدله---! نو خلقو پۀ کاڼو پۀ ويشتو ويشتو هغوئي شهيد کړو-[1] بيا د دِين دې عظيم خدمت کوونکي ته څۀ شرف حاصل شو، الله پاک فرمائي:

| قِيْلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ ؕ (پاره:23، سورۀ يٰسين:26) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: (هغه ته) وفرمائيلے شول چې تۀ جَنَّت ته داخل شه- |
| --- | --- |

يعنې د هغوئي خطاګانې اوبخښلے شوې، هغوئي له عزتونه ورکړے شو او حکم وشو: جنَّت ته داخِل شه!

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اندازه ولګوئ چې حضرت حَبِيب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پخپله د الله پاک د لارې مسافر نۀ وو- بلکې د هُغه دريو واړو نبيانو د دِيني قافلې د مدد

1 ...تفسيربغوی، پاره:23، سورۀ يٰسين، زيرِ آيت:25، جلد:3، صفحه:638 بتصرف-

د پاره د کلي نه شامل شو، د دِين د خدمت د جذبې لاندې شهيد شو نو الله پاک ورته ځومره اوچت مقام عطا کړو-

## بزرګانِ دِين او د دِين خِدمت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دغه شان د بزرګانِ دِين سيرت ولولئ! ❀ د حُجةُ الوِدَاع پۀ موقع باندې تقريباً يو لاکھ 24 زره صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم وو خو پۀ بقيعِ پاک کښې صرف د 10 زرو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم مزارونه دي، باقي تقريباً يو لاکھ 14 زره صحابۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم پۀ مدينه منوره کښې دَفن نۀ شو، ټولو سفر اوکړو، نورو علاقو ته لاړل او د نيکۍ دعوت يې عام کړو او هم هلته يې مزارونه جوړ شول ❀ پۀ پاکستان کښې هم د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم مزارونه موجود دي ❀ دغه شان حُضُور غوثِ پاک رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ پۀ جِيلَان کښې دُنيا ته تشريف راوړلو خو د هغوئي مزار پۀ بغداد شريف کښې دے، هغوئي د دِين د خِدمت د پاره بغداد شريف ته راغلل، ټول عمر يې د دِين خِدمت اوکړو، اخر يې هم هلته وصال وفرمائيلو ❀ حُضُور داتا ګنج بخش علي هجويري رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ پۀ غَزني کښې دُنيا ته تشريف راوړلو خو د هغوئي مزار مبارک پۀ لاهور کښې دے ❀ حُضُور خواجه غريب نواز رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ پۀ سَجِستَان کښې سترګې وغړولې، مزار مبارک يې پۀ اجمير شريف هندوستان کښې دے- غرض دا چې د دې الله والؤ د ژوند هم يو مقصد وو چې

میری زندگی کا مقصد تیرے دیں کی سرفرازی | میں اسی لیے مسلماں، میں اسی لیے نمازی

بس هم د دې دِيني جذبې لاندې به دوئي د لرې پرتو علاقو سفر کولو، خپل کور کلے به يې پرېښودو، د بچو نه به هم لرې وو، مشکلات به يې هم تېرول او د دِين پۀ خِدمت کښې به مصروف اوسيدل-

# د اللّٰه پاک پۀ لاره کښې د سفر کولو فضائل

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** کاش چې مونږ هم خپل دا ذِهن جوړ کړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د **نومبر مياشت د قافلې مياشت** ده- پۀ ګڼه شميره کښې به اِسلامي وروڼه د قافلو مسافر جوړيږي- تاسو هم نيت اوکړئ! کاروبارونه به روان وي، کارونه هغه دي کوم چې چرې هم نۀ دي ختم شوي او نه به چرته ختم شي- دا دُنيا به روانه وي- چې مونږ ذِهن جوړ کړو، د قافلې مسافر جوړ شو، د دې پۀ برکت به موإِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! وران کارونه سم شي-

✿ د بُخاري او مسلم روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د اللّٰه پاک پۀ لاره کښې سحر يا ماښام کول دُنيا او څۀ چې پۀ دُنيا کښې دي د دې نه بهتر دي- [1] ✿ د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے، رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پۀ يو بنده باندې د اللّٰه پاک د لارې دوړه او د دوزخ لوګے جمع کيدے نشي- [2]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک پۀ شرح کښې فرمائي: د اللّٰه پاک د لارې دوړه هغه دوړه ده چې د رَبِّ کريم د رضا د پاره پۀ لاره روان شې او هلته دوړه پۀ بدن يا جامو يا ښپو يا پۀ مخ باندې پريوځي- د حديثِ پاک معنىٰ دا ده چې لکه څنګه چې دوه مخالف څيزونه نشي جمع کيدے (مثلاً وور او اوبۀ نشي يو ځائے کيدے) هم داسې د اللّٰه پاک د لارې دوړه او د دوزخ لوګے پۀ خپل مينځ کښې مخالف جوړ کړے شوي دي- دا دواړه پۀ يو ځائے کښې نشي راجمع کيدے- [3]

---

1…بخاری، کتاب الجهاد و السير، باب الغدوة و الروحة…الخ، صفحه:726، حديث:2792۔

2…ترمذی، کتاب فضائل الجهاد، باب ماجاء فی فضل غبار…الخ، صفحه:415، حديث1633۔

3…مراۃ المناجيح، جلد:5، صفحه:436 ملتقطاً۔

# د اللّٰه پاک محبوب بندګان

خوږ نبي، ښۀ نبي، رښتوني نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مسافر د اللّٰه پاک محبوب بندګان دي- پوښتنه اوکړے شوه: کوم مسافر--؟ اوئې فرمائيل: هغه کوم چې د خپل دِين د پاره د دلته نه هلته، د هلته نه دلته سفر کوي، د قيامت په ورځ باندې به هغوئې د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پۀ خوا کښې راجمع کولے شي - (1)

# د اللّٰه پاک پۀ لار کښې د سفر عجيبه اثر

شيخ شهابُ الدِّين سهروردي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د تهجدو کولو، د روژې د نيولو او د نفل نـمونځونو د کولو چې پۀ زړۀ باندې کوم اثر وي، د اللّٰه پاک پۀ لاره کښې د سفر کولو هم دغسي اثر وي- (2)

اَللّٰهُ اَكْبَر! څومره عظيمه خبره ده--!! پۀ تهجدو کولو څۀ کيږي؟ ✿ د زړۀ نه د ګناهونو خيرے لرې کيږي ✿ پۀ زړۀ کښې نُور پيدا کيږي ✿ باطني بيمارياني ټيک کيږي ✿ د نيکو رغبت زياتيږي ✿ د ګناهونو نه نفرت نصيب کيږي ✿ باطن صفا سوتره پرقيدونکے شي او د صوفيائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم پۀ نزد دا خبره هم ثابتې شوې ده چې د تهجدو نـمونځ او نفلي روژې ډيرې پۀ تيزیٰ سره زړۀ پاک او صفا کوي، شيخ شهابُ الدِّين سهروردي فرمائي: ✿ د زړۀ پۀ پاک صفا ✿ پرقيدونکي څليدونکي جوړولو کښې چې کوم اثر پۀ تهجدو کښې دے ✿ کوم اثر چې پۀ نفلي روژو کښې دے ✿ کوم اثر چې پۀ نـمونځونو کښې دے، هم هغه اثر د اللّٰه پاک د لارې پۀ مسافر جوړيدو کښې هم دے، يعني څومره پۀ تيزیٰ سره چې د تهجدو پۀ برکت زړۀ صفا کيږي، هم هغه همره پۀ تيزیٰ سره د اللّٰه پاک د لارې د مسافر جوړيدو سره هم زړۀ صفا کيږي-

---

1... زہد لابن مبارک، صفحہ:416، حدیث:1513۔

2... عوارف المعارف، باب السادس عشر...الخ، صفحہ:75 بتصرف۔

دل کی کَلیاں کِھلیں قافِلے میں چلو | رنج و غم بھی مِٹیں قافلے میں چلو
فضل کی بارِشیں، رَحمتیں نعمتیں | گر تمھیں چاہئیں قافلے میں چلو (1)

## د الله پاک په لار کښې د سَفَر دِيني فائدې

شيخ شهابُ الدِّين سُهَروَردي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه نور فرمائي: لکه څنګه چې دَبَاغَت (يعنې څرمن د مالګې لګولو، د هغې د پخولو او صفا کولو سره) څرمن نرميږي، د هغې بد بوئي ختميږي، دا صفا سوتره کيږي، هم داسې د الله پاک په لاره کښې د سفر په برکت نفسِ اَمّاره (يعنې په ګناهونو باندې راپارونکے نفس) نرم، پاک صفا او خوشبوداره کيږي، د دهٔ سرکشي ختميږي، داسې دا په ګناهونو باندې راپارونکے نهٔ پاتې کيږي بلکې د ايمان په نُور باندې روښانه او د نيک کارونو عادت لرونکے جوړيږي- (2)

## د الله پاک د لارې مسافر جوړ شئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! وګورئ چې څومره عظيمې فائدې دي، مونږه دا وئيلے شو چې د الله پاک په لاره کښې سفر يو پوره رياضت دے، د خپل باطن د پاکولو ډير کامياب علاج دے- ځکه مونږ له پکار دي چې په کور کښې نهٔ کښينو، عام طور بس هم د روټين ژوند تيريږي، د کور نه دکان، د دکان نه کور، په خپل کور او محله کښې يو، بهر نهٔ ووځو- د دِين کار داسې نهٔ کيږي، د باطِن صفائي داسې نهٔ نصيب کيږي ✿ زړهٔ صفا کول دي ✿ ځان ټيک کول دي ✿ د نيکو عادت جوړول دي ✿ د ګناهونو نه په زړهٔ کښې نفرت پالل دي ✿ نيک نـمونځ ګزاره جوړيدل دي ✿ تهجد ګزاره جوړيدل دي ✿ اخلاق صحيح کول دي ✿ باکرداره او اخلاقي مسلمان جوړيدل دي، د دې د پاره به د کورونو نه وتل وي، د الله پاک په لاره کښې به سفر کول وي، حضرت بِشر حافِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه

1...وسائلِ بخشش، صفحه: 676۔

2...عوارف المعارف ،باب السادس عشر...الخ، صفحه: 75 بتصرف۔

به فرمائيل: اے قاريانو--!! اے د حق طلب ګارو--!! سفر کوئ! تاسو به پاک شئ- (1)

| | |
|---|---|
| بے عمل باعمل بن گئے خاص کر | آپ بھی دیکھ لیں، قافلے میں چلو! |
| بے شک اعمالِ بد اور اَفعالِ بد | کی چھٹیں عادتیں، قافلے میں چلو! |
| کر سفر آئیں گے، تو سُدھر جائیں گے | اب نہ سستی کریں، قافلے میں چلو! |

## قافله د خيرونو مجموعه ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! قافله صرف عبادت نهٔ بلکې د عبادتونو مجموعه ده، نيکه نهٔ بلکې د نيکو مجموعه ده، خير نهٔ بلکې د خيرونو او نيکو مجموعه ده- پهٔ قافله کښې سُنَّت زده کيږي او ښودلےشي ❁ د عِلمِ دِين دَرس ورکړے کيږي او اوريدے شي ❁ دِيني بيانونه کيږي او اوريدے شي ❁ د خپلو اعمالو د جاج اخستو حلقه لګولے کيږي ❁ د تهجدو د نـمونځ، اشراق، خاښت، اوابين او د توبې د نـمونځ د نفلونو کولو سعادت نصيب کيږي ❁ قرآني سورتونه يادولے شي ❁ فرض نـمونځونه د جَمعې سره پهٔ جومات کښې د کولو سعادت نصيب کيږي ❁ او د نيکانو خلقو صحبت نصيب کيږي-

| | |
|---|---|
| سادگی چاہئے، عاجزی چاہئے | لینے یہ نعمتیں، قافلے میں چلو! |
| خُوب ہوگا ثواب اور ٹلے گا عذاب | پاؤ گے بخششیں، قافلے میں چلو! |
| ایسا فیضان ہو، حِفظ قرآن ہو | خوب خوشیاں مِلیں، قافلے میں چلو! |

## د عِلمِ دِين د زده کولو ذريعه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! قافله د عِلمِ دِين د زده کولو او ښودلو بهترينه ذريعه ده- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مدني قافلې پهٔ برکت سره ❁ سُنَّت زده کيږي ❁ د اودس ❁ غسل ❁ او د نـمونځ ضروري مسئلې او حکمونه زده کيږي ❁ د قرآنِ کريم د مختصرو سورتونو د يادولو

1 ...عوارف المعارف، باب السادس عشر...الخ، صفحه:78-

سعادت نصيب کيږي ❀ تجويد او قراءَت زده کول نصيب کيږي، او ډير داسې څيزونه دي د کومو چې مونږ ته د زده کولو حاجت دے بلکې بعضې علوم خو هغه دي د کومو چې هر مسلمان له زده کول فرض دي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قافلې په برکت هغه فرض علوم زده کول هم نصيب کيږي۔

## عِلمِ دِين نۀ زده کول د ارمان سبب دے

خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قيامت په ورځ باندې به د ټولو نه زيات ارمان هغه کوي، **چا ته چې په دُنيا کښې د عِلمِ (دِين) د زده کولو موقع ميلاؤ شوه خو هغه زده نۀ کړو۔** (1)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** نن موقع ده، وخت دے، ساه ګاني چليږي، چې مونږ د قيامت په ورځ د ارمان نه د بچ کيدو ذريعه جوړه کړو، په قافلو کښې سفر اوکړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! عِلمِ دِين زده کول به مو نصيب شي۔

علم حاصل کرو جہل زائل کرو | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو!
سنّتیں سیکھنے تین دن کیلئے | ہر مہینے چلیں قافلے میں چلو!

## د نفلونو کولو سعادت

په قافلو کښې د سفر کولو په برکت په جوماتونو کښې د تکبيرِ اُولیٰ سره د پينځه وخته فرض نمونځونو د ادا کولو او د نفل نمونځونو، تهجدو، اشراق، څاښت او د اوبينو کولو سعادت هم نصيب کيږي۔

اوس وګورئ چې دلته خو د عمل کولو کمے دے، ورسره ورسره د عِلم هم ډير کمے دے، کيدے شي چې په مونږ کښې به ډير داسې وي، کومو ته چې به د اشراق، څاښت او اوبينو عِلم نۀ وي چې دا کوم نمونځونه دي۔ حالانکې اوابينو ته د صالحينو (يعني د

1...تاريخ مدينه دمشق، جلد:51، صفحه:137۔

نيکانو خلقو) نمونځ وئيلے شوے دے- پۀ قرآنِ کريم کښې د اوابينو نـمونځ کوونکو پۀ باره کښې فرمائيلے شوي دي- (1)

فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٌ مَّاۤ اُخۡفِیَ لَهُمۡ مِّنۡ قُرَّةِ اَعۡیُنٍ ۚ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوۡا یَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۷﴾ (پاره:21، سورۀ سجده:17)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو يو کس ته هم نۀ دے معلوم هٰغه د سترګو يخوالے کوم چې د هغوئي د پاره د هغوئي د اعمالو پۀ بدله کښې پټ ساتلے شوے دے-

څومره ښکلې جزا دہ، څومره ښکلے انعام دے، کوم خلق چې د اوابين نـمونځ کوي، د هغوئي د پاره داسې نعمتونه تيار کړے شوي دي، د کومو پۀ ليدو چې به سترګې يخې شي- اوس دا د اوابينو نـمونځ څۀ شےدے؟ د اِشراق نـمونځ کوم يو دے؟ پۀ قافله کښې سفر اوکړئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیم! د دې نـمونځونو معلومات به هم وشي او ورسره ورسره به مو د دې نـمونځونو د کولو سعادت هم نصيب شي-

بے عمل باعمل بن گئے خاص کر | آپ بھی دیکھ لیں قافِلے میں چلو

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د نيکو زياتولو ذريعه

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِنَّ الدَّآلَّ عَلَی الۡخَیۡرِ کَفَاعِلِهٖ يعنې د نيکۍ لار ښودونکے د نيکۍ کوونکي پۀ شان دے- (2) د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: د نيکۍ [پخپله] کولو والا، [پۀ بل باندې] کولو والا، ښودلو والا (او) مشورې ورکولو والا ټول د ثواب حقداران دي- (3)

---

1…درمنثور، پاره:21، سورۀ سجده، زيرِ آيت:16، جلد:6، صفحه:546-

2…ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدال علی الخير كفاعله، صفحه:628، حديث:2670-

3…مراۃ المناجيح، جلد:1، صفحه:194-

کله چې بل چا له د نيکۍ دعوت ورکوې نو ېځپله په هُغه نيکۍ باندې استقامت موندل اسانيږي، بلکې که کمزوري هم وي نو د هغې د لرې کيدو اِمکان زياتيږي، ځکه په قافلو کښې د سفر کولو سره يواځې په نيکو باندې استقامت نهٔ نصيب کيږي بلکې په دې کښې زياتوالے هم کيږي چې کله د قافلې مسافر نورو له د نيکۍ دعوت ورکوي نو څومره خلق چې په دې دعوت باندې لَبَّيك وائي او عمل شروع کوي د هُغه د ټولو د عمل برابر ثواب به د دعوت ورکوونکي هم کيږي- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د هدايت طرف ته راوبلل اوکړي، هغه ته به د ټولو عامِلينو (يعنې د عمل کوونکو) په شان ثواب ميلاؤيږي او د هُغه (عمل کوونکو) د ثواب نه به هيڅ نهٔ کميږي- (1)

خوب ہوگا ثواب اور ٹلے گا عذاب | پاؤ گے بخششیں، قافلے میں چلو (2)

## د عاشقانِ رسول د صحبت موندلو ذريعه

په قافله کښې د سفر کولو يو برکت دا هم دے چې د دې په ذريعه نيک صحبت نصيب کيږي- آؤ جي! څوک چې د کور نه ځي، د بال بچ نه لرې والے اختياروي، کاروبار پريږدي، لرې پرتو علاقو ته چرته چې د هغه څوک پيژندګلو والا نهٔ وي، څوک خپلوان يـې نهٔ وي، صرف او صرف د دِين د پاره، د عِلم دِين زده کولو د پاره، د نيکۍ د دعوت عام کولو د پاره، د سنتو زده کولو او ښودلو د پاره سفر کوي او ځي، جومات، د الله پاک کور د خپل استوګنې ځائے جوړولو والا وي، که دا هم نيکان نهٔ وي نو ووايئ چې نور به څوک نيکان وي---؟ اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قافلې مسافر چې بيا چرته ځي، د هُغه ځائے د اوسيدونکو مسلمانانو، په جوماتونو کښې د نـمونځ ګزارو، عاشقانِ رسول، د قافلې په برکت د هغوئي صحبت نصيب کيږي-

1...مسلم، كتاب العلم، باب من سن سنة...الخ، صفحه:1032، حديث:2674-

2...وسائِلِ بخشش، صفحه:672-

# لوفر هلک سم شو

د جلال پور بهټیا (ضلع حافِظ آباد، پنجاب پاکستان) د یو اِسلامي ورور واقعه ده، هغهٔ به د توبې کولو نه مخکښې د ګناهونو ډک ژوند تیرولو، د علاقې د لوفرانو او شرابیانو ځلمو سره یـې ناسته پاسته وه، ځکه پخپله هم د شرابو او د نورو ګناهونو عادت شوے وو، کنځلې، چغې سورې، جنګ جګړې، وهل ډبول وغیره د هغوئي د معمولاتو حصه وه، غرض دا چې د کور والؤ سره سره د علاقې والا هم د هغهٔ د حرکتونو نه تنګ وو۔

د هغهٔ بخت څهٔ داسې رابیدار شو چې یو ځل د یو اِسلامي ورور پهٔ ترغیب د قافلې مسافر جوړ شو۔ اَلْحَمْدُلِلّٰه! هلته د هغهٔ نیک صحبت نصیب شو، د سُنتو زده کولو موقع یـې نصیب شوه، د الله پاک نه د ویرې او د عشقِ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وغیره پهٔ موضوعاتو باندې یـې بیانونه اوریدل نصیب شو، پهٔ جومات کښې اوسیدل یـې نصیب شو، د دې پهٔ برکت هغهٔ توبه کړه، پهٔ سر باندې یـې عمامه شریف هم وتړله، پهٔ مخ باندې یـې ګیره مبارکه هم پریښوده او اَلْحَمْدُلِلّٰه! خپل خراب عادتونه یـې پریښودل او نیک نـمونځ ګزاره شو۔ (1)

| | |
|---|---|
| دل کی کلیاں کِھلیں قافِلے میں چلو | رنج و غم بھی مِٹیں، قافلے میں چلو |
| دل کی کالک دُھلے، دردِ عِصیاں ٹلے | آؤ سب چل پڑیں، قافلے میں چلو |
| کہتے عطّار ہیں، جو مرے یار ہیں | وہ ہر اک سے کہیں، قافلے میں چلو (2) |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ قافلو کښې سَفَر کوئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د الله پاک پهٔ لاره کښې د سفر د دې نه علاوه نور هم

1...اوباش دعوتِ اسلامی میں کیسے آیا، صفحہ:4۔

2...وسائلِ بخشش، صفحہ:676، 677 ملتقطاً۔

ډېر برکتونه دي، **تاسو هم پۀ قافله کښې سفر کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!** ❁ بيمارياني به مو ختمې شي ❁ د تنګدستۍ نه به نجات حاصل شي ❁ پۀ رزق کښې به مو برکت وي ❁ دُعاګانې به مو قبليږي ❁ د کور جنګ جګړې، ناجائزه مقدمې به ختمې شي ❁ د نيکانو خلقو صحبت به مو نصيب کيږي ❁ پۀ سُنَّتو باندې د عمل کولو، د نيک جوړيدو او د ګناهونو نه د بچ کيدو ذِهن به ميلاؤيږي ❁ د دُنيا او د اخرت خيرونه به مو نصيب کيږي۔

اميرِ اهلِ سنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: هر اسلامي ورور دې په ژوند کښې پۀ يوه مخه 12 مياشتې او هر 12 مياشتو کښې يوه مياشت او ټول عمر هره مياشت د 3 ورځو په قافلو کښې سفر کوي او د دې سفر معمول دې په ځان باندې نافذ کړي او نورو ته د ترغيب رسولو کوشش دې کوي۔

نور يې ارشاد فرمائيلے دے: ❁قافله د نيکۍ دعوت عام کولو ذريعه ده ❁قافله ګويا د حيوان نه انسان جوړوي ❁قافله د دين د تبليغ بهترينه ذريعه ده ❁په قافله کښې د دين درد او غم نصيب کيږي ❁په قافله کښې سفر کوئ د دنيا او آخرت فائدې به حاصلې کړئ۔[(1)]

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د ډيرو ورځو، د 12 ورځو، يوې مياشت او د 12 مياشتو قافلې سفر کوي بلکې اوس **د قافلې مياشت** هم شروع کيږي۔ يعنې د مرکزي مجلسِ شورىٰ له خوا د **نومبر مياشت د قافلې د مياشت** پۀ توګه د نمانځلو اِعلان شوے دے۔

قافله دِينى کار دے، د نيکۍ کار دے، د نيکۍ کارونه کول پکار دي، البته! پۀ دې مياشت کښې به پۀ خاص توګه ډېرې قافلې سفر کوي۔ تاسو هم د قافلې مياشت ونمانځئ! ټولو د قافلې مسافر جوړ شئ! خپلو خپلوانو، ځامنو، ورونړو، د ترۀ، د ماما ځامنو او دوستانو وغيره له ترغيب ورکړئ او سفر پرې اوکړئ! پۀ موبائل باندې د ايس ايم

---

1...12 دینی کام، صفحہ:543539 ملتقطاً۔

ايس پۀ ذريعه، د واټس ايپ پۀ ذريعه، بس چې د چا سره پۀ کوم ځائے کښې ملاقات کيږي، خبرې کيږي، د قافلو ترغيب ورکوئ- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د نيکۍ د دعوت ورکولو ثواب به مو کيږي-

| | |
|---|---|
| باره مَہ کیلئے تیس دن کیلئے | بارہ دن دے ہی دیں قافِلے میں چلو |
| سنّتیں سیکھنے تین دن کیلئے | ہر مہینے چلیں قافِلے میں چلو |
| یاخدا ہر گھڑی رٹ ہو عطّار کی | قافِلے میں چلیں قافِلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن پۀ نوم د "فيضانِ حديث" پۀ ***Play Store*** او ***App Store*** باندې وړاندې کړے شوے دے- پۀ دې ايپلي کيشن کښې تاسو د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ❁ مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ❁ الأربَعِيْنِ النّوويَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ رِياضُ الصَّالِحِين د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ أَربَعِيْنِ حَنَفِيَّه (اردو) ❁ او مُنْتَخَب اَحَادِيث (اُردو) شامل کړے شوي دي- ❁ د دې ايپلي کيشن پۀ مدد سره تاسو حديثونه مبارک پۀ کتابي شکل کښې (يعني د جلدونو پۀ لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو پۀ لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❁ د سرچ آپشن [يعني د لټولو آپشن] پۀ مرسته حديثونه مبارک لټولے هم شئ- ❁ پۀ دې کښې د حديثِ پاک د عربۍ متن د اعراب سره او د اعراب نه بغير، پۀ دواړه قِسم د کتلو سهولت کيښودے شوے دے ❁ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حديثونو د

**Favorite** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❁ د مختلف فاؤنټس **Fonts** او د حديثونو د شيئر **Share** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے-

هم نن پهٔ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! ځپله هم د حديثِ پاک فيضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغيب ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ پهٔ **مَدَني چينل** باندې **لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې خالي پهٔ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس (تقريباً 8:30 بجې) به اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیْم!هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې ځپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❁ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ هره هفته د يوې **دِيني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د بے حسابه مغفرت والا اعمال** رسالې اعلان کولے شي- دا رساله ځپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (**Share**) کړي! ❁ د مور او پلار حقونه د هغوئي تر ژونده پورې محدود نهٔ دي، بلکې د وفات نه پس هم د هغوئي سره د نيکئ کولو ډيرې دروازې برسيره وي- مثلاً دُعا، صدقه، د ايصالِ ثواب او د نيکو پهٔ ذريعه هم مور او پلار ته د هغوئي د دُنيا نه د تشريف وړلو نه پس هم فائده رسيدے شي- پهٔ دې باره کښې مکـتبة الـمدينه وړاندې کوي يوه ډيره ښکلې رساله: **مرحوم والدين کے حقوق**- دا رساله د مکـتبة الـمدينه د يوې څانګې نه پهٔ **40 روپۍ** پهٔ

بيعه حاصله کړئ- پخپله يـې هم ولولئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په اخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي- (1)

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جومات آداب

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په نُزهةُ القاری کښې دي: کله چې جومات ته داخليږئ نو ښۍ ښپه بيا ګڅه ښپه ږدئ او کله چې بهر ځئ نو وړومبے ښۍ ښپه او بيا ګڅه ښپه ږدئ- ❁ بغير د اِعتکاف د نيت کولو نه په جومات کښې د څهٔ څيز د خوړلو اجازت نشته ❁ د اودس د کولو نه پس چې د اودس د اندامونو نه يو څاڅکے اوبهٔ هم په فرش اونهٔ څاڅي ❁ په جومات کښې منډې وهل يا تيز ګرځيدل د کوم سره چې اواز پيدا کيږي منع دي ❁ په جومات کښې چې کله انتروشے [پرنجے]، اسويلے يا ټوخے در شي نو کوشش کوئ چې اواز په ورو کړئ ❁ په جومات کښې د دُنيا خبرې مهٔ کوئ- آؤ! که چرې څهٔ دِيني خبره چا ته کول وي نو ورنزدې کيږئ او په ورو يـې ورته وايئ ❁ په چا پسې ټوقې کول هسې هم منع دي او په جومات کښې خو سخت ناجائزه دي ❁ په جومات کښې خاندل قبر ته تيارهٔ راولي (2) آؤ! د موقعې په مناسبت سره په مُسکې کيدو

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

2...فردوس الاخبار، جلد:2، صفحه:41، حديث:3706۔

کښې څهٔ باک نشته ❀ د جومات پهٔ فرش دې څهٔ څيز نهٔ غورځولے کيږي بلکې پهٔ قلار دې کېښودے شي- بعضې خلق د اَمسا، چتهرۍ وغيره کېښودو پهٔ وخت د لرې نه غورځول د دې نه منع فرمائيلے شوې دهٔ، غرض دا چې د جومات احترام پهٔ هر مسلمان باندې فرض دے ❀ پهٔ جومات کښې حَدَث (هوا خارج کول) منع دي- که ضرورت وي نو بهر لاړ شئ- (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتـبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنّتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لیے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعې [يعني د جُمعې د شپې] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعې او زيارت مينځئ شپه

---

1 ...فیضانِ رمضان، صفحه:37 ملتقطاً-

کنبې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کنبې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کنبې د داخليدو وخت کنبې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.(1) راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سيّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د كنبيناستلو نه مخكنبې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكنبې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازې بيرته كړے شي.(2) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصاً
2... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم حيران شول چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعنې اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږ ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ اَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکۍ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي.(1) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.(2) راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵